# سپینه ماڼۍ
د مطبوعاتو دفتر

د فوری نشر لپاره　　　　　　　　　　　　　　　　د کال ۲۰۰۹ د نومبر ۲۵

## د جمهوررئیس وینا د لوی اختر په مناسبت

زه اومېشل غواړو، خپلې نېکی هیلې هغو ټولو کسانو ته چې سږکال حج کوی ور واستوو؛ او هغو مسلمانانو ته چې په امرېکا او گرده نړۍ کې دلوی اختر لمانځنه کوي. د حج کول او لوی اختر لمانځل دادواړه مراسم موږ ته د ابراهیمی عقېدې هغه رېښی راپه یادوی چې د نړۍ په درېو سترو ادیانوکې مشترکې دي.

د حج په دوران کې، دنړۍ ترټولو ستره اومتنوع غونډه روانه وي؛ دری ملیونه مسلمانان راټولېږی. په دوی کې، د زرگونو امریکاېي مسلمانانو په شمول، د ټولنې دهرپاټکي، مسلک اوکسب خاوندان موجود وی. دا ټول په جبل العرفات کې په دوعا دربېږي. په وروسی ورځ به دنړۍ ټول مسلمانان، دلوی اختر لمانځنه وکړی، مسکېنانو ته به خواړه ووېشی، چې دابراهېم علېه السلام د سنت یعنی د خداېتعالی، داطاعت لپاره د خپل زوی قربانی ته د چمتووالی پېروی وکړی.

سږکال، زه په دې خوشاله یم چې د روغتیا او بشري خدماتووزارت دسعودی عربستان د روغتیا د وزارت سره په دې کې شرېک شوېدی چې د حج په وخت کې د ایچ ون این ون، د خپرېدو مخه ونیسی. دایچ ون این ون، سره په مبارزه کې همکاری کول یوله هغو لارو څخه ده چې موږ یکې زما د ادارې هغه تعهد عملی کوو چې د مشترکو گټو په برخه کې به شراکت کوو.

دامرېکا د خلکو په نماینده‌گی ؛ موږ غواړو چې دحج په دې موسم کې خپل سلامونه او نېکی هیلې وړاندې کړو. اختر مو مبارک!